پوهاند محمد بشیر دودیال
۲۰۲۲/۰٤/۲۳

# د ځمکی ورځ Earth Day

د اپریل ۲۲مه، د غویی دوهمه ؛ د زمکی ورځ ده، زموږ په لوی کهکشان کې هغه یواځنی غونډاری چې زموږ ژوند وربانديې ممکن دی. له نیکه مرغه چی دبشریت د کلیزو پرپاڼو دغه ورځ هم ثبت او ټول بشریت د زمکي دساتنی ارزښت ته رابولی. کله چی موږ د خپلی زمکې د یواځنی غونډاری په هکله خبرې کوو، نو خامخا د (باربارا وارد) نوم رایادیږی. داهغه اقتصاد پوهه وه چی د زمکې، چاپیریال او چاپیریال مسایلو په اړه یی لیکنی کړی دي. هغې د اقتصاد او چاپیریال، د پایداره پرمختګ او دبیوزلی د له منځه وړلوپه برخه کې ژور علمی کار وکړ، دزمکی اقتصاد یی تشریح کړ، له زمکی یې دبشریت په خیراستفاده وښوده او زموږ د دغه ګډ کور د راتلونکی په اړه یې اندیښنه وښوده. په ۱۹۶۶م. کال کې یې د خپلي وینا په ترڅ کې د یواځې یوې زمکې ( Only one Earth) اصطلاح په غوره کولو سره د نړی دسیاست پوهانو، اقتصادپوهانو او لنډه دا چې د ټولو نړیوالو او د ځمکې دګړې د اوسیدونکو پام چاپیریالی ستونزو او معقولو اقتصادی تدابیرو ته راواړاو. خدای ړکړی چی ډیر ژر هغه ګواښونه رفع او دفع شی، کوم چی دې وروستیو کې زموږ د ژوند دغه ګډ کورته متوجه شوی. دا ګواښونه، ذروی جګړی، د زمکی ککړتیا او دی ته نور تهدیدونه دی، امید دی چی بشردوست څواکونه دی ته اهمیت ورکړی.

زمکه بیلابیل مفاهیم لری، لکه : ټوله زمکه(زموږسیاره)، وطن، هیواد، کرونده،دزمکی مخ، یوه ساحه، محل، ځای، خاوره، soil, ground, earth، او land . افغانستان ته یې د یوه زراعتی هیواد په توګه؛ د تولید دیوی منبع توګه مفهوم مهم دی. داچې د بیوزلی او لوږی له ستونزی سره مخ دی، نو په دې کې زمکی یو مفهوم( land) دی ، په دی مفهوم سره زمکه په اقتصاد کې یو مهم تولیدي عامل دی چې په ثابت مقدار سره موجوده ده، خو له بده مرغه موږ د دغه ثابت مقدار په استعمال او ارزښت نه پوهیږو . دا یو دریِ بُعدي مفهوم دی چې د ځمکي سطح ، ژورتیا او اړخونه احتوا کوي. په دې کې د کرنې ځمکه ( خاوره ) معادن ، جغرافیاوي ځانګړتیاوې ، ځمکه یو شمېر طبیعي شتمني لکه اوبه، بوټي او داسي نور لري.دزمکی اقتصاد( land Economics) د اقتصاد د علم هغه برخه ده چې ځمکه دتولید یو عامل او غیر منقوله ( نه لیږدېدونکي) شتمني بولي او دغه شتمني د ځمکې هغه ساحه را اخلي چې په هغې د مالکیت حق موجود وي او استفاده ورڅخه کیږي. یا په بله دنیا د ځمکې اقتصاد د ځمکې ټول طبیعي او د انسان په لاس جوړ شوي هغه منابع دي، چې په هغو باندې د ځمکې سطح کنترول لري، لکه حاصل ورکوونکې خاورې، دا وبو منابع ، ودانی، کرونده ، کان ځنګل، وحشي ژوي اونور چې هریو یې په ځمکې پورې تړلي او هریو یې د ځمکې ارزښت اوچتولای او کمولای شي. په همدې خاطر اوس د(The **Highest** and **Best** Use of Land) موضوع ارزښت پیدا کړی دی.

افغانستان یوپرمختیایی او جګړه ځپلی هیواد دی، نوځکه یې اقتصادی وضعیت ډیر ښه ندی. دا د اقتصاد پوهانو مسئولیت دی چې ناوړه اقتصادی حالت ورغوی او هیواد د پرمخیتا په لوری رهبری کړي. د دې مقصد لپاره تر ټولو لومړنی ضرورت پوهه ده. په پوهې سره غوره اقتصادی پلانونه او انکشافی ستراتیژیګانی جوړیدای شی. د پوهی او اوچت ظرفیت په واسطه بشری نیرو او طبیعی منابع په کار لویږی او ټولنه د رفاه او هوساینې خواته بیولای شو. دلته هدف له محدودو منابعو څخه د پراخو او زیاتو احتیاجاتو پوره کول او د منابعو ښه تخصیص کول او په ښنه کول دي.


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

طبیعی منابع، چې الهی تحفه ده؛ هر هغه څه ته وایی چې مونږ ته ګټوره او په موجوده شرایطو کی لاسته راشی او لاسبری ور باندی ممکن وی. کیدای شی د خامو موادو او په نا مرتب شکل وی، یا تولیدی عامل وی او د پروسس په واسطه ارزش پیدا کړی یا هم مستقیما مصرف شی، چې په دې کې ترټولو مخکی زمکه راځي. زمکه، سیندونه، غرونه، چمنونه او نور ټول الله پاک زموږ دګټې لپاره خلق کړی اوزموږ لپاره یی مسخر کړی دی. دا د بشر په لاس نه ده جوړ شوی بلکه په طبیعی بڼه د خپل پیداینت په سیمه کی ملکیت ګڼل کیږی،چې د اوسیدو د محل ترڅنګ، د تولید یو عامل دی. پرزمکه باندی د نورو اقتصادی او حیاتی فعالیتونو ترڅنګ موږ کښت کوو. کښت او کرنه ټول هغه فعالیتونه او مدیریتی اجرأت چې په کروندو کی د کرنیزو محصولاتو د تولید او د ځمکی له زیرمو او د اقلیم له شرایطو په ګټه اخیستنی سره د ونو- بوټو او څارویو د روزنی په خاطر ترسره کیږی. دلته بیولوژیکی او اقلیمی عوامل یو بل سره ترکیب کیږی او د انسان د کار په مرسته غذایی توکی چمتو کیږی.

اوس بشریت دزمکي د ډیر قیمتی او حیاتی ارزښت له مخې، دی ته اړم دی چی ثبات لرونکی کرنی ( sustainable agriculture )ته پام واړوی دا هغه کرنه ده چې د کرنیزو محصولاتو د تولید هغه طریقي چې په هغو سره اوسنی نسل ته حاصل ترلاسه، خو راتلونکی نسلونه بی برخي نشی. په دغه ډول کرنه کې د ژوند د چاپیریال، اقتصادی، ټولنیز، حقوقی او سیاسی بیلابیل اړخونه رعایت کیږي. په دغه ډول کرنه کې ځمکې څخه استفاده اکثر حد کې او د خاورینوسرچینو ساتنه ډاډمنه وي. دا احتیاط له پیریو راهیسی رواج شو: په ۱۷ او ۱۸ مه پیری کی ریکاردو، لیبیګ، مایر او ډورینګ د ځمکی اهمیت او اقتصاد وښود، په ۱۸۹۲ کی د امریکی ویسکانس په پوهنتون کی ریچارد تی د طبیعی منبع او ځمکی د جایداد په هکله یو سیمینار ارایه کړ. دشلمی پیری په لمړی نیمایی کی طبیعی منابع د امریکی په پوهنتونونو کی د یو اکادمیک دسپلین په توګه تبارز وموند. وروسته بیا رالی بارلو زمکي په اړه ډیر غوره نظریات ورکړل ا دا سلسله روانه وه، بشریت د ۱۹۷۰ م. کال څخه وروسته د کلیزو په پانو باندی یوه ورځ (د اپریل ۲۲مه) د ځمکی د ورځې په نوم ونومولـه. د دغی نظریی مخکښ ګایلورد نلسن و. د دغي ورځي لمانځنه په دې موخه کیږی چې بشریت چاپیریال ساتنی، د خاوری ارزښت او د ځمکی استعمال ته ځیر کړي.

په دې لړ کی بل اقدام، د ملتونو هغه مهمه غونډه وه چی د ۱۹۹۲ م. کال د جون په میاشت کی د برازیل

په ریو د ژنیرو ښار کی د چاپیریال او پرمختیا د مسایلو په اړه د earth summit ترعنوان لاندي

دنړی د ټولو هیوادو دپوهانو په ګډون متخصصینو او چاپیریال پیژندونکو او توافق تر سره شوه چې

دزمکی له ورځي سره نړدی اړیکه لري.

په اقتصاد کې زمکه د پانګې، کار او مدیریت تر څنګ یو مهم تولیدی عامل دی، په تیره بیا د افغانستان په شان یوه داسې هیواد ته چې له یوې خوا یې کرنه مهم مسلط اقتصادی سکتور او له بلې خوا کرنی ته مساعدې زمکې ډیرې لږ دی، دغه عامل حیاتی او ستراتیژیک اهمیت لري. په تیرو وختونو کې د بی کفایته حکومتونو، فساد، بی ظرفیته ادارو او معقولې پالیسی د نه لرلو له امله ډیرې غوره او کرنیزی خاوری له منځه تللی، یا سمه استفاده ور څخه نده شوې، یا هم تر نامناسب استعمال لاندې راغلی او یا هم خاوره له لاسه وتلي ده. حیرانوونکی خبره ده چې لا اوس هم د زمکو نهه ډوله استعمال نه دی تعریف اوتفکیک شوی او د هر استعمال حدود ندی ښودل شوي. دغه االستعمالونه دای دي:

commercial & industrial sites, posture & grazing lands, Residential land, crop lands, forest land, mineral land, recreation land,

زمکه په ثابت مقدار سره موجوده ده چې په اندازه کې یې زیاتوالی هیڅ امکان نه لري. په همدې خاطر دنړی په ټولو هیوادو کی په دې برخه کی ډیر محتاطانه پلانونه تطبیقیږی او د زمکو پالیسی د حکومتونو د کار یوه مهه برخه جوړوی. افغانان وایی چې موږ ته خپله خاوره ګرانه ده، خو واقعیتونه دا خبره نه تاییدوی، دوی هر کال ډیره زیاته اندازه ( په زرګونو ټنه) خاوره له لاسه ورکوی او په ساتنه او دفاع یې نه پوهیږی، له بلې خوا خاوری او زمکی ته تدبیر هم نه لری. تر دې هم خواشینوونکی خبره داده چې علمی بحثونو سره یې هم نااشنا یاستو او د کرنی وزارت، شهر سازی،


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلي مقالي دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

اداره مستقل اراضي، چاپيريال ساتني اداره او نور د زمکي او خاورو په هکله لازم مطالعات، پلانونه او د راتلونکي اټکلوونه نه لري.

په افغانستان کې د ۶۵ میلیون هکتاره ځمکی څخه یوازی ۸ میلیون هکتار ځمکه ( یا نږدی ۱۲ سلنه ) د کرنې وړ ده. دې ته ( arable land) وايي. نوري زياتره سيمی غرونه او يا دښتي تشکيلوی. افغانستان په ټوليزه توګه وچ- سارايی اقليم لری . زياتره سيمي په يو کال کي په منځنی توګه د ۴۰۰ ملی مترو څخه لږ د باران اوبه تر لاسه کوي، نو ځکه کرنه د خړوبولو په ذريعه کيږي او د اوبو لګول د کرنی اصلی عنصر دی، د کرنيزوزمکو خړوبولو ته مصرفيږي. د کورنيو جګړو څخه مخکی په هيواد کې د دري ميليونه هکتارو ځمکو د خړوبولو توان موجود و، اوس صرف دوه ميليونه هکتاره ځمکه تراوبو لاندی ده، یعني آبي کښت ساحه کمه شوې، خو زياته شوې نه ده، حال دا چې نفوس دوه برابره شوی دی !

بايد هيره نشي چې د دري برخو څخه دوه برخی خوراکی مواد په سيده توګه او يوه بله برخه يې په ناسيده توګه له کرنيزې ځمکی څخه تر لاسه کيږی. دا محصولات د ژوند کولو د پاره په اساسی توګه مختلف ډولونه دی؛ لکه: باغداری، دغلو-دانو توليد، سابه، دمالداری لپاره علوفه، الياف او نور. په افغانستان کې د دغو ټولو توليد ناکافی دی، نو ځکه زموږ خوراکي توکي له بهر څخه وارد يږی. د غلي کمښت نوره نړۍ کې هم محسوسيږي، ويره ده چې ګوکاله وروسته به هيڅ هيواد زموږ مومنو اومسلمانو وطنوالو ته يو کپ ډوډۍ او يو پاو غله هم ورنکړي، ځکه هر هيواد به په خپل غم کې وي او افغانان د ترحم او زړه سوي داسي څه نه لري چي نړۍ دې ورسره مرسته وکړي.

د کرنيزو زمکو مطالعه ښيي چې د هيواد اکثريت کروندي کوچنی دی (۶۰سلنه کروندې، صرف له يو هکتار څخه نيولی تر پنځه هکتارو پوری دي. چی ۹۰ سلنه زراعتی زمکه جوړوي) . له دې امله د بزګرانو زياتره کورنی کولای شی د خپلی اړتيا وړ غله وکري، خو ګو وروستيو کلونو کي دزمکو مافيا او قاچاقبرو دغه زمکي يا په زور يا په نيمه بيه دوی څخه رانيولی، د کوچنيو کروندو خاوندانو د مجبوريت له مخې خپلي کروندې په مافيا وپلورلې. مافيا دغه شنه ساحه او کرنيزی زمکي په نورو استعمالونو له کاره و ايستي . د حاکميتونو په تاريخی بهير کې د حامدکرزی په نوم د حاکميت دوره کې چي فساد تر ټولو زيات شوی و، کرنيزې زمکي هم له استفادې ووتې. د هيواد په کچه ، د غلو کالنی اندازه د ۲۰۰۵ او ۲۰۱۱ کلونو تر منځ ۳،۷ تر ۵،۶ ميليون متريک ټنه پوری رسيده. لکه چی ارزيابی شوی، د غنمو توليد او مصرف د نورو محصولاتو په سر کی دی. د افغانستان خلک غنم په ټولو خوراکونو کی زيات استعمالوی (هر وګړی په اوسط ډول په کال کې ۱۶۰ کيلوګرامه غنم مصرفوی) چی د نړۍ په سطح لوړمقداردی، حال داچي نورو هيواو کي د غنمو ترڅنګ لبنيات، سابه، ميوه او غوښه هم ډير مصرفيږی. په افغانستان کی د غنمو اوړه ۵۷ سلنه کالوری د ټولو خوراکی توکو له جملی تشکيلوي(د انرژی مهمه سرچينه). دا په داسي حال کې چي د غذايی مصوئونيت او غذايي حاکميت په هکله کوم شاخصونه او مطالعات نشته. د کورنيو جګړو څخه مخکی ، افغانستان د غلو په توليد کی په ځان د داډه کيدو په حال کي و، يو ګو کلونو کی يی حتا غنم بهر ته هم ليږل . مګر نن ورځ د نفوسو بی اندازی زياتيدلو، او دزمکو کمښت، په کرنيزو محصولاتو کی کمي، او همدارنګه د کښت وړ ځمکو کی کموالی راتلل ، دا هيواد مجبور کړ چي هرکال ۱،۲ ميليون متريک ټنه غنم وارد کړي.

په دې وروستيو کې د ځمکي کمښت د زمکي اوانسان د انډول (Man – land ratio) اصطلاح رامنځته کړې ده. دغه نسبت دا ښيي چي په هر مربع کيلومتر کي د انسانانو شمير مخ په زياتيدو دی.

که چيري کرنيزه زمکه ښه مديرت نشی، د لوږي ويره شته. همدا اوس يو شمير خلک د غذا د کمښت له امله ځوريږی او په سوی تغذی باندی اخته دی. د نورو عواملو تر څنګ په افغانستان کې د سيلاوونو له امله هم زمکه او خاوره تر تهديد لاندی ده. د دې ترڅنګ د نړی په کچه هم دکرنيزو زمکو د کمښت ستونزه پيدا شوی ده، مثلاً : د FAO د راپور پر اساس د خورو ۹۹.۷٪ برخه د زمکي د غونډاري له خاورينی برخی څخه لاس ته راځی او د ۰.۳ څخه لږ خواړه د سمندرونو څخه لاس ته راځی. د دی ګړی د ۱۳ بيليونه هکتاره ځمکی څخه ۱۱٪ کرنيزی ځمکی، ۲۷٪ چمنی، ۳۲٪ ځنګلی، ۹٪ ښاری او پاته ۲۱٪ خاوره يی د مختلفو عواملو (لکه غرونه، شګی، ډيری ګرمی او سړو) له امله د کر لپاره مناسبی نه دی بلل شوی. په ۱۹۶۰ ميلادی کی چی د نړی ټول نفوس درې بيليونه و، نو هر وګړی ته په منځنی ډول نيم هکتار ځمکه رسيدله، خو اوس چی نفوس دوه چنده شوی دی او اقتصادی فعاليتونه لکه د



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولېږئ: info@arianafghanistan.com

فابريکو، نقليه وسايلو، کورونو، نويو ښارونو او مارکيټونو جوړول او دی ته ورته نور فعاليتونه هم پرخه شوي، چی زياته برخه يی په کرنيزو زمکو ترسره شوي دي. د دغو چارو بی سنجشه اجرااتو په کرنيزو زمکو او تازه او شنه چاپيرياڵ منفی اغيز کړی، د فی نفر زمکی اندازه يې کمه کړی چی اوسط يی ۰.۲۳ هکتاره ته راټيټ او د خوړو توليد کی يې کموالی راوستلی. خو دا اوسط په هر هيوادونو کې فرق کوی لکه امريکا کی د هر وګړی په سر ۰.۴ هکتاره ځمکه رسيږی او چين کی چی ۲۵ کال مخکی ۰.۱۱ هکتاره زمکه هر وګړي ته سيدله، اوس و ۰.۰۸ هکتاره ته راکښته سوی، چی دا حالت د انديښنی وړ دی. افغانستان کې تر ټولو غټه بدبختی دا ده چې د رهايشی، صنعتی، تفريحی، خدماتی استعمال لپاره پوره زمکې شته، خو د بې سنجشه استعمال لاندې راوستو له کبله يې په کرنيزو توليداتو او شنه ساحه منفی اغيزه کړی ده.

زموږ هيواد کې د ټولې نړۍ په پرتله د خوراکي توکو توليد کم دی. د امريکا متحده ايالات په کلنی ډول د هر امريکايی وګړی لپاره ۱۴۸۰ کيلو ګرامه خواړه توليد وی او چين چې زيات نفوس لري، هم خپل هر وګړی ته په کال کې د ۷۸۵ کيلو ګرامه خواړه توليده وی، افغانستان دې برخه کې ثقه ارقام نه لری، خو ويلای شو چی مقدار يې ډير کم دی.

افغانستان کې د خاوری تخريب يوه بله ستونزه ده چې دا عمليه د پخوا په څير په څو ځله ډيره سوی ده او هر کال مليونونه هکتاره کرنيزی زمکی د کر او توليد څخه راګرځوی اود بارانونو، سيلابونو او بادونو په وسيله له حاصل څخه لويږی او ځينی زمکی بيا د ضعيفه کرنيز مديريت( د زيم د نه ايستلو په سبب د خاورو مالګين او سوډيمی کيدلو او يا هم زمکو ته د ناوړه ترکيباتو او خراپو کرنيزو عمليو او دی ته ورته نوری عمليو) په سبب د کښت څخه وځی او يا هم کال په کال يی حاصل کی کموالی راځي

پرمختيايي هېوادونه او له دې جملی؛ افغانستان بايد د اقتصادي ودې مرکزونه اوسي، ځکه د زرغونې ودې ( Green Growth ) عملي کېدل دلته له طبيعي منابعو (زمکي او اوبو) څخه ممکن دي. د طبيعي منابعو دا ګټور استعمال د وګړو د ژوند کچه لوړوي او د اقتصاد د بهبود سبب ګرځي.

زرغونه وده green growth يعنی له طبيعی منابعو، خصووصاً ځمکې څخه ښه استفاده . د زرغونې ودې لپاره زموږ په هېواد کې تقريبا ټول شرايط برابر دي. د افغانستان کرنيزوالی او پرمختيايي توب دا خبره نوره هم قوي کوي.

که موږ له فضا څخه د افغانستان نقشه وګورو؛ زموږ نيکونو له زرګونو کلونو را دې خوا د سيندونو ترغاړو کرنې او مالداري ته انکشاف ورکړی، له هغه راهيسی زموږ هر کار او اقدام همدا د سيند ترغاړو او په شنو کرنيزو ځمکو کې دی، ښارونه، سړکونه، مارکيټونه، عسکری ميدانونه، ... ټول په همدې محدوده ساحه کی ترسره کوو، د نيکونو په لاسو موجوړې کړی کروندی او ويالې ويجاړې او زراعتی زمکې مو له منځه يووړې، خو له سيند او شنې ساحې يو څو ګامه هاخوا په زرګونه هکټاره ځمکه بی استفادی پاتې ده. په تيره بيا دغه بې استفادی زمکه د ترانسپورت، خدماتی استعمال، رهايشی، صنعتی، ښاري او نورو استعمالونو لپاره ښه مناسبه ده چی په هغوسره هم ددغو زمکو ارزش اوچتيږی، تر استعمال لاندې راځي او هم شنه ساحه په خپل حال پاتې کيږی.

د ځمکې د مسايلو بشپړ سمون يو مهم ضرورت دی، اوس چې د ځمکو خپلواکه اداره چې په ۲۰۱۰ م. کال کې جوړه شوه د ځمکو د ادارې او مديريت د مسئوليت د بنسټ په توګه بايد دغو مسايلو ته متوجه شي. له جګړو مخکی زموږ چارواکو مسئولانه چلند کاو، خو اوس کال په کال شنه ساحه تر يرغل لاندی ده او دزمکو لپاره علمی تدابير نشته. له زمکی سره يوځای د اوبو منع هم مهمه اوزمکی سره تړلی ده.

د افغانستان د سيندونو له اوبو صرف ۳۰٪ څخه استفاده کيږی نوری ۷۰٪ يا له هيواده بهر وځی يا په شګو کی جذبيږی. که چيری دهر هکتار لپاره په کال کی ۱۰۰۰۰مکعب متره اوبه کافی وی نو په دغو اوبو ۵۵ ميليون هکتاره ځمکه خړوبيدای شی او دبريښنا دواسنی اندازی ۹۰ ځله بريښنا توليدیدای شی !!



لطفاً مقالات خود را به اين آدرس ارسال بداريد | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

که چیرې دقت وکړو، نو واضح به شی چې زموږ نیکونو د سینډونو په امتداد د ژوند ساحې غوره کړی او په همدی ساحو کې یې کر-کیلې ته انکشاف ورکړی و، ددوی دمعیشیت وسیله کرنه او مالداری وه، کروندی، باغونه او څاوری یې روزل او ژوند ته یې دوام ورکاو. کله چې ژوند عصری، نور بیلابیل ساحات پراخه او نفوس ډیر شو، نو د سړکونو، مارکیټونو، اداری ودانیو، خدماتی ساحو، سپورتی اوتفریحی ساحو ته هم ضرورت احساس شو. له بده مرغه دغه ډول تاسسات ټول په پخوانیو کروندو یعنی شنه ساحی کی ایجاد او پخوانی باغونه اوکروندی تر یرغل لاندی راغلل او زراعتی استعمال په دې نورو استعمالونو بدل له بلې خوا فاسدو شتمنو د ودانیو او ښارګوټو د جوړولو په رمو خه د کوچینو ځمکوالو کروندی ترلاسه کړې، کوچنیو بزګرانو د اقتصادی مجبوریت له مخې خپل باغونه او کرنیزی ځمکی په دوی باندې وپلورلی، نتیجه یی ډیره بده راووتله او غیر زراعتی ساحات همداسی بی نقشی اوبی استفادی پاتې شوې. د کندز زراعتی حاصلخیزه ځمکې نوری د شاړکیدو په حال کی دي، د شمالی ښایسته او حاصل ورکوونکی قیمتی باغوونه هرهر ورځ له منځه ځي، د کندهار ماله جات تر څو کلو مخکې دانګورو باغونه وو، خو اوس یې ښه ډیره خرابه ده، ننګرهار یووخت همیشه بهار و، خو اوس یې شنه ساحه او فارمونه له منځه تللی او ټولو کې کورونه، سرایونه، دموټرو اډې، د موټرو بارګنونه او نور جوړ شوی، حال داچې لږ وړاندی پریمانه دښتې بی استفادی پاتې دي، هره ورځ کروندی او باغونه رنګ او د نورو استعمالونو لپاره تخصیص مومی... که دا سلسله دوام وکړی، راتلونکی نسل ته لویې ستونزې پیښیږی. داو اوس موږ باغونه او کروندی او شنه هر ورځ له منځه وړو، بیدیا او شاړې ځمکی لا هماغسی بی استفادی دي، نو ځکه اقلیم ورځ په ورځ خراب، بیکاری زیاته، داخلی کرنیز محصولات کم شول، محسوس ارزشونه(ښایسته شین چاپیریال) له منځه ولاړ، پخوانی بزګر وزګار او ددوی د معیشت وسیله حیف او میل او په کرنیزو زمکو هغه تجملی بیخایه ودانی ، هوټلونه، میدانونه، د ناقانونه وسله والو د اوسیدو محلات، د لوکسو غیر قانونی موټرو تمځایونه او داسې نور جوړ کړل، چې هیڅ عایداتی او مفید اړخ نلری. دولتی ادارو هم روښانه پالیسی او دورنما پلانونه نه لرل، اوس زموږ یو وزارت هم دځپلی ودانی مخی ته کم له کمه یو دوه هکتاره شنه ساحه نلری، یو روغتون هم ازاده فضا نه لری، دپوهنتونو او ښوونځیو ازاده فضا هم له منځه تللی چی دنړی هیڅ هیوادکې دا ډول وضعیت نه لیدل کیږی. نورو هیوادو کی آن در غرونو لنو کې زینه یی کروندی(bench terrace ) جوړوی. دا هغه کروندی چی د تیرو د بارو په جوړولو سره طبقه په طبقه جوړی شوی وی. او دسیندونو غاړی هم تراسبندی کوی، تراس بندی له یوی خوا د غرونو له لمنو او غونډیو څخه د کرنی لپاره د استفادی امکان برابروی، له بلی خوا د خاورو د له منځه تګ او شړیدو مخه نیسی. دغه ډول تراس بندی پخوا د لغمان ولایت، کونړ، خوست او نورستان کی کیده، خو اوس نشته. د سیلاو د خاوری د رسوب له امله د لویو سیندونو تر غاړی جوړ شوی تراسونه یی هم یوه بیلګه ده. بل پرابلم دخاروی مینځل کیدل (erosion) دي، کله چی د باد، باران یا سیلاو له امله د یوې سیمې خاورې ومینځل شي. دلته د خاوری بحرانی ویجاړیدل (catastrophic erosion) ډیر زیات دی. دا ډیر ګړندی حد اوبحرانی تخریب دی چې په یوه کال کی له یو هکتار ځمکی څخه له ۲۰۰ مکعب مترو څخه زیاته خاوره مینځل کیږی.دا په خپل وار د debarred سبب کرځي.

نورې نړیٔ خپله کرنه په صنعتی کرنه( industrial agriculture) اړولی چې دزمکی ارزښت پکی ساتل کیږی، په جاپان کی آن د ودانیو پر سر شولی کی اود سمندر پرمخ یی مصنوعی پټي جوړکړي. بل دزمکی تلفیقی استعمال( **integrated agriculture**) دی. داهغه کرکیله ده چی له زمکی څخه د اصلی تولید تر څنګ نوری موخی هم وی، لکه د یوی سیمی د خلکو لپاره د استخدام د فرصتونو برابرول، علمی تحقیق ترسره کول، د عاید زیاتول، د چاپیریال بډای کول، د ښایسته منظرو جوړول او د نویو ورایټیو معرفی کول، خو په نهایت کی دزمکو ښه استعمال دی.

ل اقدام دزمکې سمون (**land reclamation**) دی، چې موخه ورڅخه د ښه او اقتصادی استعمال په خاطر د ځمکی د توانمندی اوچتول دی. کولای شو چی د ځمکی د ځینو ځانګړتیاوو په بدلون سره ځمکه د استعمال لپاره اصلاح کړو لکه زهکشی کول، د ځمکی د تیږو ټولول، د لوړو ژورو هوارول او نور تخنیکی کارونه.

متاسفانه په افغانستان د ځمکې مقداری او هم غیر مقداری ارزشونه(محسوسې اونامحسوسې ګټې) او د ځمکې داستعمال موثریت له منځه ولاړ. باید داسې روښانه، علماً سنجول شوې او پلانیزه پالیسی ولرو چې دځمکې استعمال ته معقول او

علمی شکل ورکړو، تر څو دغه مهمه طبیعی منبع چی په مقدار کې یې هیڅ زیاتوالی امکان نه لري، له لاسه ورنکړو، بلکې سمه استفاده ورڅخه وکړو. موږکولای شود یوې معقولې پالیسی په لرلو سره هم زراعتی ځمکې په خپل ښه او دعظمی حد استعمال او ګټورتوب کې راولو او هم د خمکې نور استعمالونه پراخه او موثر شي. نو لاندی ټکی رعایتول ضرور دی:

- کرنیز تولیدات، دباغونو احداث(دهارتیکلچر وده)، شین ماحول او د ژوند تنوع حفظ کول.
- له ځمکی غوره، اعظمی او اقتصادی استفاده کول،
- د کښت ترڅنګ دځمکی نور اته ډوله استعمال په خپلو ځایونو تر کار لاند راوستل او د ښارونوناانډوله پرمختیا او د نفوسو د اسکان ستونزه حل کول،
- عامه ملکیتونه ساتل، ټولنیز عدالت او ثبات تامینول، بیوزلی کمول او د استخدام ښه فرصتونه ایجادول او له دی سره یوځای د هیواد د یوې بلې طبیعی مهمی منبع (اوبو) د استفادې موثریت اوچتول.

راځئ د خپلو طبیعی منابعو په ارزښت پوه او د هغو علمی، معقول او پلانیزه استعمال ته پام وکړو. زمکه د تولید مهم عامل او د ټول بشریت ګډ کور یی وګنو. خاوره باید له لاسه ورنکړو، ککړه یې نکړو او د زمکو په مناسب استعمال ځان خبرکړو.



برای مطالب دیگر پوهاند محمد بشیر دودیال روی عکس کلیک کنید


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com